مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۲۵/۰۵/۰۴

ایا اټومي ځواک هندوستان به ډیر زر پر پاکستان برید وکړي؟

یوه لنډه تبصره:
د کشمیر پر سر اټومي جګړه به د دویمې نړیوالې جګړې په پرتله ډیر قربانیان ولري.
یا به اوبه بهیږي یا به وینه: هندوستان د سیند اوبه د پاکستان پر وړاندې د وسلې په توګه کاروي.
لویدیځه نړۍ د امریکا ولسمشر وروستۍ ماجراجویانه پریکړو او زیګ زاګ دریځونو ته په حیرانوکي ډول ګوري او همدارنګه په اوکراین کې جګړې ته او په منځني ختیځ کې د باروتو چاودیدونکي ګډامونه په اندښنو سره ځاري.
خو په دې ترڅ د دې پیښو په پایلو کې په سویلي آسیا کې یوه بله ستره شخړه مخ په تاودیدو او زیاتیدو ده، چې خورا ډېره ګواښمنه او خطرناکه لوبه ده.
یوه خونړۍ ترهګریزه برید ټول هند ولړزاوه. شک کېږي چې د دې ترهګرېزې پېښې اصلي طراحان په پاکستان کې دي. کارپوهانو له اوږدې مودې راهیسې خبرداری ورکړي و، چې سیلانیان د ترهګرېزو بریدونو هدف ګرځیدلی شي.
شخړه وسمهال مخ په زیاتیدو ده. دواړو خواوو په دې وروستیو کې د وضعیت د خرابولو پروسه پیل کړې ده. د کشمیر له برید وروسته پاکستان د هند د پوځي برید تمه لري.
د متقابل ګواښونو او پوځي نښتې په پام کې نیولو سره، د تاوتریخوالي د زیاتوالي خطر خورا ریښتینی او واقعي ګرځیدلی دی. کارپوهان خبرداری ورکوي، چې که چیرې نور ترهګریز بریدونه ترسره شي یا که هند په پاکستان کې پوځي غچ واخلي، وضعیت هر وخت له کنټروله وتلی شي.
د دواړو اټومي قدرتونو ترمنځ تاوتریخوالی د اپریل په میاشت کې د همالیا کشمیر په هندي برخه کې، چې دواړه خواوې یې د ملکیت ادعا لري، له برید وروسته ګواښونه زیات شوي دي.
د کشمیر سیمې په شخړه کې، دوه اټومي قدرتونه، هند او پاکستان یو بل ته په دښمنۍ کې مخامخ ولاړ دي. په داسې حال کې چې په شالید کې د هند او چین ترمنځ شخړه د یو بل اټومي ځواک ترمنځ لانجه لاهم توده ده. د همالیا غرونو په څنډو کې نړۍ د بل هر ځای په پرتله اټومي جګړې ته نږدې شوي ده.
د اپریل په میاشت کې د هندي کشمیر په برخه کې پر سیلانیانو باندې ترهګریز برید دغه زړه شخړه یې نوره هم پراخه، توده او جدي کړې ده.

د هند حکومت پاکستان د ترهګرۍ په ملاتړ تورن کړ او سمدلاسه یې له هند څخه د ټولو پاکستاني اتباعو د ایستلو امر صادر کړ. هند له خپل ګاونډي هېواد سره د سیند د اوبو مهم ټرون تر نامالومي مودې پورې وځنډاولو.
د پاکستان د سرحدي ځواکونو مهمې پوسته وروټرلې او ګڼ شمېر پاکستاني ډیپلوماتان یې نامطلوب یا ناغوښتل شوي اشخاصو په توګه اعلان کړل. د هند امنیتي ځواکونو په کشمیر کې سلګونه کسان ونیول او په پوله کې ډزې هم تبادله شوې.
ولې په دې وروستیو کې دغه زړه شخړه بیا راپورته شوه؟
د هند او پاکستان د دریمې جګړې وروسته، چې د پاکستان په بشپړه ماتې سره پای ته ورسېده او د بنګله دیش - پخوانی ختیځ پاکستان - د خپلواکۍ لامل شوه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په 1972 کال هند او پاکستان د شمله تړون کې ځانونه ژمن وګڼل، چې خپلې شخړې به د خبرو اترو له لارې په سوله ییزه توګه حلو فصلوي.
د شمله تړون د هند او پاکستان ترمنځ د سولې تړون دی، چې د 1972 کال د جولای په دویمه نیټه د هند په شمالي ښار شمله کې لاسلیک شو.
سره له دې شخړه په شدت سره په تودو کې روانه وه او بیا بیا جګړې پیل شوې دي. لکه د 1999 کال کې د کارګیل جګړه، چې دواړه دولتونه لا د مخه اټومي ځواکونه ګرځیدلي وو او یوازې د امریکا د پراخ فشار له امله د لا زیاتېدو مخه یې ونیول شوه.
په هند کې د پاکستاني ترهګرو ډلو خونړي بریدونه، لکه په 2008 کال کې په ممبۍ کې، د دواړو اټومي قدرتونو ترمنځ اړیکي سختې ترینګلې کړي. دي
په 1952 کال کې هند د جمو او کشمیر شاهي ایالت منحل کړ او دا سیمه یې د هند د ایالت په توګه په هندي اتحادیه کې ورشامله کړه.
د کشمیر سیمه له جیوپولیتیک پلوه خورا مهمه سیمه ده.
هلته دري اټومي ځواکونه یو بل ته ولاړ دي او په سلګونه زره سرتیري د هند او پاکستان ترمنځ د نږدې 740 کیلومتره اوږدې اوربند کرښې یا د لاین افکنټرول په اوږدو کې یو بل ته مخامخ کیږي. یوازې هلته د مېشتو هندي ځواکونو شمېر نیم میلیون اټکل شوی دی.
د وروستي بریدونو وروسته په پوله کې د ډزو تبادله ښه نښه نه ده او سترې اندېښنې راپارولي دي.
هند او پاکستان وسمهال هڅه کوي, چې یو بل په ګواښونو سره ووېروي.
دواړه اټومي قدرتونه چې د اټومي وسلو د نه خپریدو تړون یې نه دی لاسلیک کړی. د شاته تګ هیڅ ډول نښې نابنايي په کې نه لیدل کیږي. دا ځکه چې دواړه دولتونه د کمزورۍ یا شاتګ نښې ښودلو سره په کور د ننه له منفي غبرګونونو او کورنیو سیاسي پایلو څخه ویره لري.
له همدې امله نړیوال څارونکي اندیښمن دي، چې وضعیت هر وخت له کنټرول څخه وتلی شي، د بېلګې په توګه که چېرې نور ترهګریز بریدونه وشي یا هند په پاکستان کې غچ اخیستونکی برید تر سره کړي.
سربېره پردې هند د سیند د اوبو تړون وځنډاولو، چې دا د پاکستان لپاره د حیاتي اوبو رسولو د کمولو یو جدی ګواښ دی.
هند له پاکستان څخه د توکو واردات بند کړل. د تېر کال راهېسې د هند او پاکستان ترمنځ سوداګري لا د مخه د پاموړ کمه شوې وه.
پاکستاني حکومت په تیرو وختونو کې دې ته اشاره کړې، چې دا ډول اقدام به د اټومي وسلو د کارولو لپاره له سرې کرښې څخه د تیریدلو په مانا وي.
په کشمیر کې له برید وروسته، د دوو اټومي قدرتونو ترمنځ اړیکي لاهم ډیرې ترینګلي دي. هند اوس له پاکستان څخه د توکو واردول منع کړي دي. په عین حال کې د پاکستان پوځ یو بالستیکي توغندی وازمایلو.

د دواړو اټومي وسلو لرونکو قدرتونو ترمنځ تاوتریخوالی د اپریل په میاشت کې د همالیا سیمې د هندي کشمیر په یوه برخه کې د برید وروسته زیات شوی، چې دواړه خواوې یې ادعا کوي، چې لږ تر لږه 26 کسان په کې ووژل شول، چې ډیری یې هندي سیلانیان وو. د هندي چارواکو په وینا، ویل کیږي چې لږترلږه دوه تښتیدلي ترهګر مجرمین پاکستانیان وو.
بي بي سي د "جنګیالیو" په اړه خبر ورکړ یا خبرې وکړې، پر ځای د دې چې ترهګرو ته ترهګر ووایی. ترهګر یې جنګیالي بللي دي. په انګرېزي رسنیو کې پاکستاني ترهګرېزه بریدونه بې اهمیته جلوه ورکول له ډېره پخوا څخه دوام لري او همداسي ادامه ورکول کیږي. وسمهال یوازې کوچنۍ وسلې د دې هدف لپاره کارول کیږي. خو دواړه هېوادونه اټومي بمونه او وسلې لري.
د نوي ډیلي حکومت د اسلام اباد واکمن د ترهګرېزه برید مسوول ګڼي او د پولې هاخوا ترهګرۍ په ملاتړ یې تورنوي.
د دې ګواښمن وضعیت په منځ کې، د راپورونو له مخې پاکستان د ابدالي بالستیکي توغندي ازموینه ترسره کړه. پوځ یې ویلي: چې د شنبې په ورځ ازموېل شوي او توغول شوی له ځمکې څخه ځمکې ته توغندی 450 کیلومتره لېرې واټن ویشتلی شي. د ابدالي اټومي وسلو د سیستم د پیل موخه د "د سرتیرو عملیاتي چمتووالي" ډاډ ترلاسه کول دي او مهم تخنیکي پیرامیټرنو چیک کول دي. په دې کې د راکټونو پرمختللی نیویګیشن سیستم او د هغې د چلولو وړتیا پورې اړوند پرمختللي ځانګړتیاوې شاملې دي.
د هند سمندري ځواکونو د ویاند په وینا، هند په دې وروستیو کې په عربي سمندر کې پراخ پوځي مانورونه او تمرینونه ترسره کړل. همداوس د هند هوایي ځواک جنګي جېټ الوتکې په کشمیر کې هوایي مانورونه ترسره کوي.
د دې پوځي مانورونو موخه د جنګي چمتووالي او د احتمالي ګواښونو د مخنیوي وړتیا لوړول ښودلي شوي دي.
هند له خپل ګاونډي هېواد سره د سند د اوبو تړون وځنډاوه او خپل هوایي حریم یې د پاکستاني هوایي شرکتونو په وړاندې ور وتړلو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اسلام آباد رژيم ويانډ دا هم وويل، دوی د معتبر استخباراتي مالومات لري، چې له مخې ښيي هند هم پوځي اقدام پلان لري. دواړو هېوادونو لا دمخه د کشمير پر سر دوه جګړې ترسره کړې دي.
د کشمير په سيمه کې د برید وروسته د اټومي قدرتونو هند او پاکستان ترمنځ تاوتريخوالی مخ په زياتيدو دی.
د هند حکومت په دې باور دی، چې اوسنی برید د لشکر طيبه ترهګرې ډلې لخوا ترسره شوی، چې د پاکستان استخباراتي اداري ته نږدې ده او په 2008 کال کې يې په ممبۍ کې لوی ترهګريز برید ترسره کړی و.
په دې اوسنې برید کې 26 هندي سيلانيان ووژل شول او ډېر نور ټپيان شول. دا برید دومره پراخ و، چې پلان جوړونې او ستراتيجۍ ته اړتيا درلوده.
دا کومه تصادفي خبره نه وه، چې وسمهال رامنځته شوه. هغه څه چې حيرانونکي دي هغه يوه پخوانۍ سېمپل نمونه ده: هر کله چې د پاکستان پوځ يا استخباراتي اداره په کور د ننه د ننګونو او د کورنۍ ځواک له لاسه ورکولو ګواښ سره مخ شي، په کشمير کې ترهګريز فعاليتونه زياتيږي. دا ځکه چې د پاکستان پوځ غواړي په کور دننه خپل دريځ پياوړی کړي، دا کار پرته له پاکستاني پوځ نشي کيدلی.
دويم لامل يې د امريکا مرستيال ولسمشر جي. ډي. وينس هند ته په يوه دولتي سفر تللی و، چې هند ته د نړيوالو رسنيو اضافي پاملرنه يې تضمين کړه. په بلوځستان کې پر جعفر ايکسپريس ريل ګاډي باندې د برید غچ اخيستل هم يادېږي.
په کشمير کې د پاکستاني پوځ ترهګريزه فعاليتونه کومې موخې او ګټې تعقيبوي.؟
هند پوهيږي، چې پاکستاني پوځ وسمهال د نورو کورنيو نارامیو دلايلو له امله لکه ټي ټي پي، پي ټي اېم او د بلوځانو بيلتونپالو غورځنګ په ډېر کمزورۍ حالت کې راوستلی دی او په پاکستان کې پوځ ډېر بد نامه شوي، پاکستاني ترهګرپال او قاتل پوځ په ډېر بد نام سره يادېږي. د پښتون ژغورنې غورځنګ مشر منظور احمد پښتين ويلی دي: پښتانه نور د پنجابي جنرالانو د وطنونو دفاع ته نه ودرېږي.
هند او پاکستان اټومي قدرتونه دي او له همدې امله د پوځي شخړو بې کنټروله زياتوالی ډېر خطرناک دی.
د پاکستان د دفاع وزير په پلازمېنه اسلام اباد کې په خپل دفتر کې د رويټر خبريالانو ته وويل، چې وسله وال ځواکونه په لوړه کچه د تيارسی په حالت کې دي. خو، پاکستان به يوازې هغه وخت خپلې اټومي وسلې وکاروي "که زمور شتون ته مستقيم ګواښ پېښ شي." د هند او پاکستان ترمنځ لفظي بيانونه د تاوتريخوالي ورستی کچ ته رسيدلي دي. د هند د کانګريس غړی آديټ راج د ګاوندي هيواد پر وړاندې د سختو اقداماتو غوښتنه کړي ده. نوموړي د انډيا ټايمز خبري پورتال ته ويلي: په دې وخت کې اوس پاکستان ته د سبق ورکولو وخت دی.
وسمهال په هند کې داسې ډېر داسې غړونه هم شته، چې د سمدستي د پوځي تاوتريخوالي د زياتولو غوښتنه کوي، په داسې حال کې چې نور بيا داسې استدلال کوي، مور بايد په بيړه کې پريکړې ونه کړو، بلکه بايد لږ انتظار وکړو او وګورو او بيا په احتياط سره په پاکستان کې په داسې اهدافو باندې دقيق برید وکړو، چيرې چې دوی ته ډېر زيان رسولی شي. دا کېدای شي يو پوځي برید وي يا د اقتصادي بندېزونو او اقداماتو له لارې هم کيدلی شي.
که څه هم ډيری څارونکي د هند څخه د پوځي غبرګون يا برید تمه لري، خو دا لا څرګنده نه ده، چې دا برید به څومره ځواکمن او اغيزمن وي.
د هندي سيلانيانو پر وړاندې ترهګريز برید پاکستان يې د ستونزې جوړونکي مخرب هيواد په توګه نړۍ ته ښکاره کړ.
هغه څه چې بايد په پام کې ونيول شي. په تيرو وختونو کې، امريکا او شوروي اتحاد يا روسيې دواړو د هند او پاکستان ترمنځ د شخړو د منځګړيتوب لپاره مداخله کړې ده. وسمهال داسې کومه نښه نښانې نشته، چې د امريکا اوسنۍ اداره به بيا دا کار وکړي. په دې توګه، دا ځل د تاوتريخوالي کمولو يو مهم نړيوال اړخ يا عامل شتون نه لري.
تر ټولو مهمه دا ده، چې په کابل کې د طالبانو واکمنې اداری دغه برید غندلی او د پاکستان څخه فاصله نيولې ده. اټومي ځواک پاکستان د کورنۍ او بهرنيو طالبانو ترمنځ تر سخت فشار لاندې راغلې دی.
دغه هيواد تر ډېر فشار لاندې دی. پاکستان تر هغه څه ډېر تر فشار لاندې دی، تر هغې چې په ابتدا کې تصور کيدلو.
دا برید يوازې "په هندیانو برید" نه و، چې بايد هند يې په دې ډول جبران کړي. دا برید نه يوازې د کشميريانو په وړاندې و، بلکې دا برید په هند کې د ټولو مسلمانانو په وړاندې يو برید دی. که چيرې هندي حکومت هيڅ ونه کړي."
دغه هيواد هم تر سخت فشار لاندې راځي.
د کابل او ډهلي په سرکونو خلک په دې باور دي، چې پاکستان د دې ترهګرېزو ستونزو اصلي ريښه ده. د هند او پاکستان ترمنځ او د افغانستان او پاکستان ترمنځ دښمني له کومه ځايه سرچينه اخلي.
د دريواړو هېوادونو ترمنځ دښمني په 1947 کال کې د برتانوي هند د وېش سره تړاو لري، چې انګرېزانو پاکستان د هند او افغانستان په خاوره کې جوړ کړ. کشمېر په نړۍ کې تر ټولو خطرناک سيمه ګرځيدلې ده. د کشمير او د ډيورنډلاين کولونيالېستي شخړه د نړۍ له مهمو شخړو څخه دي._طالبان د ډيورنډ کرښې په دواړو غاړو کې فعال شتون لري.
دغه غمجن خونړۍ برید څومره له يو بل سره ورته والی لري: هغه بريدونه چې تير کال د مارچ په مياشت کې د پاکستاني طالبانو لخوا په پاکستان کې ترسره شول، د پاکستان حکومت پرې يې په افغانستان کې پر افغان طالبانو

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وروا چوله، چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پوځي نښتو او بمباريو لامل شول او بيګناه خلک په کې ووژل شول.
نوی ډيلی وسمهال د خپل لويديځ ګاونډي سره تقريبا په ورته ډول چلند کوي، لکه څنګه چې اسلام آباد هغه وخت د کابل سره د تولو نړيوالو قوانينو خلاف چلند او عمل وکړ.
د هند حکومت په کشمير کې د خونړي ترهګريز بريد پېره پر پاکستان اچولي ده. ټول پاکستاني اتباع يې شړي او په سرحدي نښتې پيل شوي دي.
دا بې دليله خبره نه ده چې پاکستان د سياسي کارپوهانو په منځ کې د نړۍ د يو له خطرناکو هېوادونو څخه او يو بدنامه لقب ترلاسه کړی دی.
د پاکستان پوځ تر ډېر فشار لاندې دی، لکه څنګه چې پنجابي سياسي حاکمه طبقه هم تر فشار لاندې ده.
نړۍ بايد انديښمنه وي ځکه چې دواړه هيوادونه اټومي وسلې لري.
که چيرې د کشمير شخړه په ريښتيا سره زياته شي نو څه به وشي؟ د دواړو هېوادونو پوځونه په مستقيم ډول له يو بل سره پرتله کولو چې څومره پياوړي دي.؟
د اټومي وسلو شمېر:
هند له 1974 کال راهيسې اټومي وسلې لري او پاکستان له 1998 کال راهيسې. د سولې د څېړنې انستيټيوټ (SIPRI) په وينا: هند د 2024 کال په پيل کې 172 اټومي سرګلولې درلودې. پاکستان تقريبا د 170 اټومي سرګلولو سره مساوي دی. هند په نړۍ کې څلورم لوړه دفاعي بودیجه لري، چې په کال کې 75 ميلياردې ډالرو سره برابر ده. په پرتلېزه توګه د پاکستان کلنی دفاعي بودیجه چې 7,6 ميلياردې ډالر ده. پر نړيوال کچ په 38 ځای کې راځي، چې خورا کمه بودیجه ښکاري.
د هندي او پاکستاني پوځونو اندازه:
د هند تر ټولو لويه ګټه او برلاسي د دې هيواد ډېر نفوس دی. هند 1,45 ميلياردې نفوس لري. هند له 2023 کال راهيسې په نړۍ کې تر ټولو زيات نفوس لرونکی هيواد دی.
دا مهال د هند په پوځ کې 1,5 ميليونه فعال سرتېرې شتون لري. پاکستان، يوازې 255 ميليونه نفوس لري، چې د 650,000 سرتيرو يو ظالم پوځ لري.
سربيره پردې، شاوخوا 523 ميليونه هندیان په تيوريکي ډول کولې شي د احتياطي سرتېرو په توګه په هندي پوځ کې استخدام شي. پاکستان يوازې شاوخوا 86 ميليونه نارينه لري.
د دې شمېرو پر بنسټ، هند له پاکستانيانو څخه په مراتب په پوځي ډګر کې ډېر پياوړي او ځواکمن ښکاري.

پای

د ليکوال: آرشيف

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ